**ليکونکی : جيسيکا کوربت** ***(Jessica Corbatt***

**منبع او دخپريدو نيټه :کمان ډريم « 20-11-09**

**ژباړونکی :پوهندوی دوکتور سيد حسا م «مل».**

-------------------------------------

# دتروريزم پرضد دامريکی نړيوال سرتاسری جګړه کی نيم مليون کسا ن وژل شوی دي چی دا فقط د بشر دويجا ړنی د سطحی څولول «تخريش» دي

**Half Million Killed by America's Global War on Terror 'Just Scratches the Surface' of Human Destruction**

دا نوی شميرسرتيری (New Body Count) ښيی چی زر له مينځه تلل يواځی دجګړی په شد ت سره کيږی

*This new body count signals that ,far from " diminishing ,the war is only intensifying "*



دبرون پوهنتون ديونوی څيرنی په ترڅ کی چی په اصطلاح دتروريزم په ضد دامريکی دجګړی دپروژی په اړين ترسره کړی داسی ښودلی دی چی په دغه جګړه کی نيم مليون کسا ن په عراق ، افغا نستا ن او پا کستا ن کی وژل شوی دی » .(Photo: Spc. Phillip McTaggart/Flickr/cc «

***دا تازه معلومات د 17 کلونو جګړو د پا يلو سطحه تخر يشوي."- اينټا کرورفورډ، د جنګ لګښت***

دا نوی شمیر سرتیری (New Body Count) ښيي چې زر له مینځه تلل یواځې د جګړې په شد ت سره ترسره کیږی، آغلی **ستیفا نی سا بیل«Stephanie Savell»** د دی پروژی اجرایوی مدیر د **اکسیون** (Axion) ویب سایت ته په اشا ری سره څرګند کړ چې په دغه روانه جګړه کی بشری مجموعی تلفات یواځې(113000) تنه ددوو کا لو په اوږدو کی رامینځته شوی کوم چی دغه راپور په دغه نوموړی ویب پاڼه کی په نشر هم رسید لی دي . پی دی اف(pdf) شوی نوی ګذارش داسی براورد کوی چې د(2001) میلادی کال په اوږدوکی د (480000) تر(507000) کسا نو په دغه دری هیوادونو یعنی عراق ، ا فغا نستا ن او پاکستان کی دجګړې دتاوتریخوالی له امله خپل ژوند دلاسه ورکړی دي ، دغه رقم بیا په سوریه کی له (500000) نفرو مړینی څخه زیات دی کوم چې دکال (2011) په اوږدو کی مړه شوی دي او هم په کال (2014) کی له هغه وخته چې دامریکی متحده ایالات په دی جګړه کی داخل شوی دی یولړ غیر مستقیم بشری تلفا ت د خواړه ، اوبو اود ا نرژی اویا د برق د کمښت اود نشتوالی څخه دسوری خلکو په برخه شوی دی یعنی چې امریکایانو دغه شوم سوغات د سوری عامه خلکو ته د سوغات په بڼه راوړی دی.

په هغه براورد کی چې په مستقیم بڼی سره دجګړې له امله په خلکوکی مرګ اوژوبلې راوړی دی دامریکی د متحده ایالاتوپه جګړه کی راښکیل یوځیا نو ، جنګی پیما ن کارانو دامریکی د دفا ع دوزارت منسوبینو ، ملي پولیس اودپوځ غړی ، نور متحد ځواکونو ، مختلف جګړه ما رانو اومخا لفینو ، غیر نظا میا نو ، ورخ پاڼی چلونکو ، اود کارګرانو ته مرستند وی تولنی شا مل دي چې دوی په مجموعی بڼی سره **نیم ملیون** خلک دی چي خپل ژوند دلاسه ورکړی دي اودغه مرګ وژوبله زیاتره په غیرنظامیا نوکی مینځته راغلی دی چې یواځې په عراق ،افغا نستا ن او پا کستا ن کمی په حدود د(244000) او(266000) خلکو په قتل رسید لی دی چې ددی څخه برسیره یواځې په عراق کی (204000) خلکو خپل ژوند دامریکی په دغه جګړه کی دلاسه ورکړی دي .

له هغه کوم وخته چې دا دامریکی دمتحده ایالاتو دتروریزم پر ضد نړیوال جګړه له کال (2011) څخه راهیسی په لاره اچول شوی دی دامریکی دمتحده ایالاتو دولت وار په وار هڅه او اند کړی چي ددی جګړی ما لی لګښت کم وښیي او په همد ی منظور ددولت له خوا تاکل شوی تیم دا نیت او قصد لرلي چي ددی جګړی په اړین ا نسا نی ، ا قتصا دی او سیا سیی لګښتونه د (۹/۱۱) پیښی څخه وروسته په مینځنی ختیځ کی د امریکی د متحده ایالاتو نظا می اقداما ت په برخه کی د خلکو دیوها ویی دپا ره چي دهغو دپا م وړ قناعت تر لاسه کړی یو لړ کا مل اطلاعات وړاندی کړی دي .

دا وروستنی راپوردامریکی دمینځ مهال ټول ټاکنو په اړه دی کوم چي د موکرا تا نو دامریکی داولسی مجلس کنترول تر لاسه کوی - شاغلی **سا بیل** (Savell) د راتلونکی

په اړه داسې وړاند یز وکړ چي دلته دکور په دننه د یموکراتا نو غواړی چې د ملی امنیت ستراتیژی ته پوره وده ورکړی چې د تروریزم سره په جکړه کی د مالی لګښت پر حساب او کتا ب با ندی پوره کنترول ولری .

***ستیفا نیی سبیل*** ( Stephanie Savell ) د څنو څرګند شویو موخو دارزیابی دپاره په د ننه کی یوشمیرد موکراتا نو ته د***اکسیون*** په ویب پا نه کی لیکلی: څیړنه ښیی چې حکومتونه د ملکی وکړو د (جا نبی زیا نونو ) په اړین را پوروته په ډ یر احتیا ط سره ترلاسه کوی ، نودهمدی اصل په نظر کی نیولوسره اوس کڼ شمیردموکراتان ددی امر





ستیفا نیی سبیل (Stephanie Savell)          ***باربارا لیی***

د تحقق لپا ره په دی طرح باندي کارکوی چی که وشی کړی چې دمجلس کنترول تر لاسه کړي - د خلکو استا ذی ***رو کانا*** (Ro Khanna) وایی چې هغه غواړی چې د دری ورځودپا ره با ید چی د ***دونالد ترومپ*** د ملی ا منیت سره په ګډه د برسی اود څیړنی جلسی دایر شی اودامریکی دخلکو لپاره څرګند کړی چې زمونږ ماموریت څه دی ؟ زمونږ مالی لګښتونه څومره دي ؟ خطرونه مو کومی دی ؟ اوولی مونږ هلته یو اودبلی خوا څخه وکیل آدم سمث (Adem Smith) د دی لپا ره چی د کور د وسله والو د خد ما تود کمیټی مشر شی ترڅوچې که وشی کړلی چي دپوځ په کړنو باندی دنظارت کچه زیات شی اما زیا ت شمیر وکیلانودا غوښتنه لری چی ***با ربا را لیی*** د کمیټی مشره شی چې په ا فغا نستا ن کی روا نی جګړی ته د پای ټکیی کیږدی .

سرببیره پرهغه چی د موکراتا نو خپلو کړنو ته په مجلس یا شورا کی څرنګه ادامه ورکوی ، آغلی نیتا کروفورد (Neta Crawford) د بستون په پوهنتون کي د سیا سی



Neta Crawford

علوموپروفیسور کوم چی هغه دجګړی د لګښتونو د پروژی مشاوریت هم په غا ړه لری په دغه راپورکي داسی استدلال وکړ چی د عا مه خلکو ځا ن سره د سا تنی یا د ملا تړ دلرلو ضرورت په ظاهر کی د مینځنی ختیځ د نا پا یا نو جګړو دلاسته راوړنو اویا د پا یلو لپا ره داړینو مسا یلو انکشا ف ته دامریکی دمتحده ایالاتو دخارجی سیاست دبهبودی دپاره حتمی بلل کیږی نوموړی داسی لیکی :

« دغه تازه اویا په وخت سره څرګندوني یواځی د(17) کلونو جګړو دانسانی عواقبو د سطحی څولونی (خراشید ګی) دی ، کوم چی دغیر دولتی سا زما نونو اود خبری رسنیو اکثر قا نون جوړونکو هم هڅه کړی چی د جګړی پا یلی کوم چي په عمدی توګه سره د دولتونو له خوا مهند سی کیږی تعقیب کړی دي ترڅو چی دهغی دانکشاف څخه بشپړ انځور ترلاسه کړي . » هغه وویل : امریکا دشفافیت دزیاتوالی د پاره یولړ هڅی اواند ترسره کړي ، خو مګر یوشمیر سیمی شتون لری چی هلته ملکی خلک مړ یا ټپی کیږی – همدارنګه دامریکی دپوځ جانبازان اوځنی کسان په انتحاری ځا ن وژنو حملاتو کی هم له مینځه ځی نو په دی برخه کي دځواب په توګه د موضوعا تو شفا فیت کیدای شی چی سیا ست ته بهبودی ورکړی .

---------------------------------- **په درنا وی «2018-11-13»**